## لاحق يد

هغه تصرف ته ويل کيږي چې يو مال يا يو ملك تر تړولو وروسته د وروستني شخص په تصرف کې پاتي شوی وي. درې: [يد لاحق]

## لاحق

د يو عقد د وجيبې په سرته رسولو کې د يو نوي امر د يو ځای کېدلو څخه عبارت دی او يا هم په دعوی کې د يوې نوې ادعا رامينځ ته کېدلو ته ويل کېږي. درې: [لاحق]

## لاحق شرط

هغه شرط دی چې د توافق وړ موضوع د اصلي شروطو د تکميل سبب ګرځي. درې:[شرط لاحق]

## لاحق قانون

نوی قانون دی چې د پخواني قانون پرځای وضع شوی وي. درې: [قانون لاحق]

## لازم الاجرأ سند

هغه سند دی چې بيله مراجعې قضايي مراجعو ته د تطبيق وړ وي. درې:[سند لازم الاجرأ]

## لازم الاجراء حکم

له هغه حکم څخه عبارت دی چې له قانوني حکم سره سم قطعي شوی وي. (قطعی حکم ته دې مراجعه وشي). درې:[حکم لازم الاجراء]

## لازم العقوبه

هغه مجرم دی چې جزا يې هرو مرو او لازمی ده او د هيڅ راز عفوې او بخښنې وړ نه وي. درې:[لازم العقوبه]

## لازم عقد

هغه عقد دی چې د عقد هيڅ کومه خوا نشي کولای ترڅو د خپلې هيلې سره سم ئې فسخه کړي مګر د قانون د حکمونو سره سم. درې:[عقد لازم]

## لازمه اجاره

هغه اجاره چې د عقد د دواړو خواوو لپاره له خيارونو څخه خالي او له دوی څخه هيڅ يو نشي کولای پرته له کوم معقول عذر څخه هغه فسخ کړي. (اجارې ته دې مراجعه و شي). درې: [ اجارهٔ لازمه]

## لازمه بيع

هغه نافذه بيعه ده چې د عقد د دواړو خواوو په اړوند پکې خيارونه شتوالی ونلري. (بيع ته دې مراجعه وشي). درې:[بيع لازم]

## لاسليك

د کاغذ پرمخ له خاصو علايمو سره د نوم يا تخلص له ليکلو څخه عبارت دی چې د هغه په اساس شخص د حقوقو او تکاليفو څښتن کيږي. درې: [امضا]

## لامالك

هر هغه شی او يا مال چې د هيڅ شخص پورې اړه ونلري. درې: [لامالک]

## لايحه

هغه مقررات دي چې د صلاحيت لرونکو مقاماتو لکه وزارت يا هغو ادارو چې د وزارتونو په سطح صلاحيت لرونکي دي. وضع او تر اجرا لاندې نيسي. درې: [لايحه]

## لټول

هغه عمل دی چې د لاسته راغلو اطلاعاتو پر بناء د عدلي او قضائي مراجعو له خوا د جرمونو د آثارو او علايمو لپاره صورت مومي. درې:[بازرسی]

## لص

هغه شخص دی چې د غلا د جرم مرتکب شوی وي. درې: [لص]

## لعان
هغه حالت دی چې یو نارینه خپلې ښځې ته د زنا د فعل نسبت ورکړي او د خپلې ادعا لپاره شاهد ونلري او ښځه ئې هم هغه تکذیب کړي. دری:[لعان]

## لقب
د شخص د نوم د هغه برخې څخه عبارت دی چې د هغه د کورنی، قوم او یا حرفې او شغل سره په مناسبت کې یو شخص هغې سره مشهور وي. دری: [لقب]

## لقطه
موندل شوی شی او یا مال ته ویل کیږي. دری: [لقطه]

## للمي ځمکه
هغه ځمکه ده چې د اوبه کولو طبیعي منابع ولري او د درجې او ضریب په نظر کې نیولو سره یې، حاصل دوه فصله او یا یو فصل وي. دری:[زمین للمی]

## لمریز کال
عبارت دی له زماني واحد څخه چې دولس میاشتې لري او د وري له لومړۍ نېټې څخه پیل او د کب په وروستنۍ ورځ پای ته رسیږي. دری: [سال شمسی]

## لنډ مهاله پور
هغه پور دی چې د ورکړې لپاره یې لنډه موده ټاکل شوی وي. دری: [قرضه کوتاه مدت]

## لنډ مهاله حرمت
هغه ډول حرمت دی چې د موجبې د له منځه تلو سره سم یې د واده ممانعت هم له منځه ځي.
دری:[حرمت مؤقتی]

## لواطت
په غیر طبیعي ډول له مذکر او یا مونث انسان سره وطې کول دي. دری:[لواطت]

## لومړنی (ابتدائي) کوپراتیف
هغه جمعیت دی چې لږ تر لږه له یوولسو تنو غړو څخه جوړ شوی وي. دری: [کوپراتیف ابتدائی]

## لومړۍ درجه احاله
عبارت له هغه حالت څخه ده چې د یوې قضیې د حل لپاره د یو هېواد قانون د بل هېواد په قانون تمسک او استناد کوي او دوه یم هېواد بېرته د قضیې څېړل لومړي هېواد ته احاله کوي. دری:[احاله درجه اول]

## لویه جرګه
د افغانستان د خلکو د آزادۍ لوړ مظهر چې له قانون سره سم د ملي حادو مسایلو د پرېکړې لپاره جوړیږي.
دری:[ لویه جرگه]

## لویې لارې
هغه عامې جادې دي چې د دولت له خوا د اشخاصو د لېږدونې رالېږدونې لپاره جوړې شوې وي او د دولت له خوا یې ساتنه او څارنه کیږي. دری: [شاهراه]

## له اجارې څخه تنازل
د اجارې په یو عقد کې د لومړني اجاره اخیستونکي له خوا د خپلې اجارې له حق څخه تېرېدل او بل چاته د هغې سپارلو ته ویل کیږي. دری: [تنازل از اجاره]

## له استوګنې څخه منع کول
هغو تأمیني اقداماتو ته ویل کیږي چې له مخې یې مجرم په ځینو هغو ځایونو کې چې د جرم د ارتکاب احتمال شتون لري د تللو، حضور موندلو او استوګنې څخه منع کیږي. دری:[منع اقامت]

## له پولې څخه د افرادو نامجازه تېرېدنه
د هېواد د پولو له لارې په ناقانونه توګه هېواد ته دننه او یا هم له هېواد څخه بهر د افرادو یا اموالو راننه اېستل او یاهم بهرته لېږدول دي.
دری:[عبور غیر مجاز افراد از سرحد]

## له تقصیر پرته ورشکستګی

هغه ماتې ده چې د ورشکست شوي له ارادې بهر رامنځته شوی وي او نوموړې تاجر یې په رامنځته کېدو کې هیڅ نقش نلري. دری:[ورشکستگی بدون تقصیر]

## له ټولنیزو حقوقو څخه محرومیت

له هغو تبعي جزاګانو څخه عبارت دی چې په موجب یې د قانون له وړاندوینې سره سم، مجرم د ټاکلې مودې لپاره له ټولنیزو حقوقو څخه محرومیږي. (تبعي جزاګانو ته د ې مراجعه وشي).

دری:[محرومیت از حقوق اجتماعی]

## له ثلث څخه زیات وصیت

هغه وصیت دی چې د هغه ټوله اندازه د موصي د متروکې له ثلث څخه زیاته وي.

دری: [وصیت متجاوز از ثلاث]

## له جرم څخه رامنځ ته شوی زیان او ضرر

هغه خساره او زیان چې د جرم د ارتکاب په نتیجه کې مجني علیه ته رسیږي. دری: [ضرر و زیان ناشی از جرم]

## له جرم څخه متضرر

له هغه کس څخه عبارت دی چې د چا د جرم له ارتکاب څخه هغه ته اخلاقي، جسماني، مالي یا معنوي ضرر رسېدلی وي. دری:[متضرر از جرم]

## له جزایي دعوی څخه منځ ته راغلی مدني دعوی

د مجني علیه یا د هغه د محاکمې په موخه د قانوني قایم مقام ادعاء چې د مجرم یا هغه اشخاص چې په قانوني توګه د هغو د خسارې د جبران څخه چې د هغو د عمل څخه رامینځ ته شوې وي.

دری: [دعوی مدنی ناشی از دعوی جزایی]

## له ځانه پردی کېدل

هغه ډول واک او بې معنی حالت او وضعیت چې له مخې یې په فرد کې یو ډول انزوا او ګوښې توب رامینځته کیږي او زیات شمېر افراد د مجرمیت لوري ته سوقوي. دری: [از خود بیگانگی]

## له ځواك څخه ناوړه کار اخیستنه

د هغه عمل سرته رسول دي چې شخص له خپل دولتي دریځ څخه ناجایزه کار واخلي او د خلکو، شخص، دولت یا ټولنې په وړاندې د زیان لامل شي.

دری:[سؤ استفاده از قدرت]

## له خدمت څخه تعلیق

هغه تعلیق دی چې د یو کارمند وظیفه د قانون له حکمونو سره سم په خاصو حالاتو کې ځنډول کیږي.

دری:[تعلیق از خدمت]

## له خدمت څخه تېښته

د دندې له ځای څخه د یوځي اشخاصو داسې تښتېدل دي چې د هغو د پرله پسې غیر قانوني غیابت لامل شي.

دری:[فرار از خدمت]

## له دندې څخه ګوښه کول

هغه حالت دی چې د دولت کارکوونکی د قانون د حکم یا واکمنې محکمې د پرېکړې له مخې له دولتي وظیفې څخه په لنډ مهالي توګه ګوښه شوی وي.

دری:[انفصال از وظیفه]

## له دوو خواوو څخه قرابت

هغه قرابت دی چې یو معین مورث ته د ارث مستحق شخص د دوه اړخیز نږدیوالي په اړه کارول کېږي.

دری: [قرابت از دو جهت]

## له دین څخه کفالت

هغه عقد دی چې د هغه پراساس یو شخص هغه دین چې د مدیون په ذمه بانډې د ادا کولو د بل شخص لپاره ضامن کیږي. دری: [کفالت از دین]

## له سند نه انکار

هغه شخص چې سند يې شتوالی ومومي خو نوموړی په هغه کښې خپل ځان ته انتساب شوی مهر، لاسليک او يا د ګوتې نښه نفې کړي او د ځان يې ونه بولي، دغه عمل ته له سند څخه انکار ويل کيږي. دری:[انکار از سند]

## له سهامي پانګې څخه تمويل

د سهمونو د پلورلو په وسيله د مالي منابعو برابرول دي.
دری: [تمويل از سرمايه سهامی]

## له شرط څخه د سرغړونې خيار

که چېرې د عقد په ترڅ کې د دواړو خواوو څخه د يوې په ګټه کوم شرط ايښودل شوی وي د شرط څخه د مقابل لوري د سرغړونې په صورت کې، هغه شخص چې شرط يې په ګټه ايښودل شوی، کولای شي عقد فسخ کړي. دری: [خيار تخلف شرط]

## له ضمان سره تصرف

هغه تصرف دی چې په هغه کې تصرف کوونکی کوم شی د تمليک په موخه تر خپل حيازت لاندې راوستی وي. دری:[تصرف باضمان]

## له عدالت نه تښتېدل

هغه عمل چې له مخې يې شخص خپل ځان د قانون له تطبيق څخه ګوښه او موخه يې له عدالت څخه پټېدل وي. دری: [فرار از عدالت]

## له عقد څخه رامنځ ته شوي حقوق

هغه حقوق دي چې د يو عقد پر منشا بنا وي دواړه لوري کولی شي چې په هغو باندې تمسک وکړي.
دری: [حقوق ناشی از عقد]

## له عوض څخه بغير هبه

هغه بخشش دی چې د هغې کوم عوض غوښتل شوی نه وي. دری: [هبه بلاعوض]

## له قانون څخه تېښته

هغه عمل دی چې د مظنون، متهم يا مجرم له خوا ګرفتارۍ، د محاکمې يا د مجازاتو تطبيق د مانع کېدلو په قصد صورت ونيسي. دری:[فرار از قانون]

## له کوژدې څخه تېرېدل

د کوژدې د دواړو خواوو له ډلې څخه په راتلونکي کې د دوی ترمينځ د واده په اړوند د ژمنې نه د هر يوه بېرته ګرځېدل دي. دری: [انصراف از نامزدی]

## له مالياتو څخه مشروع تيښته

هغه تېښته چې د قانوني عمدي خلاګانو له مخې چې د تدوين په وخت کې مينځ ته راغلی وي د عايداتي ځانګړو کټه ګوريو له مخې د عامه ګټو په منظور صورت مومي. دری : [ فرار مشروع مالياتی]

## له محارمو څخه غلا

هغه غلا چې يو له محارمو نه له بل څخه د غلا مرتکب کيږي او د لاس غوڅول ساقطيږي.
دری: [سرقت از محارم]

## له محکمې وروسته اجراآت

هغه اجراآت دي چې د ورستنې محکمې د حکم له صادرېدو څخه وروسته، د حکم د تنفيذ لپاره د دولت د اجرائيوي مقاماتو له خوا پيل کيږي.
دری: [اجراآت بعد از محکمه]

## له مخې ليکل يا تبيض

د يوه اثر نقل يا ليکل چې د مؤلف يا ژباړونکي د اصلي نسخې له مخې بايد د لوستلو وړ او په سمه توګه برابر شوی وي. دری:[ رونويسی يا تبيض]

## له مديون څخه سرقت

هغه حالت چې په هغه کې سارق د خپل مماطل مديون څخه غلا کوي. دری:[سرقت از مديون]

## له مرتبې څخه تنازل

هغه اصطلاح چې د یوه داین له خوا بل داین ته د ځان تېرېدنې او د یو شان ځای څخه د هغه د حق د استرداد د لومړیتوب ورکولو په اړه کارول کیږي.

دری: [ تنازل از مرتبه]

## له مرهونه عین څخه د ګټې پورته کول

له یو ګرو شوي عیني ملک څخه د ګټې پورته کول.

دری: [انتفاع عین مرهونه]

## له مسلك څخه بې برخې کول

هغه حالت دی چې دولتي کارکوونکی د محکمې له حکم سره سم د جرم د ارتکاب له مخې په دایمي توګه له دندې څخه ګوښه کیږي. دری: [طرد از مسلک]

## له مشاع څخه ګټه اخیستنه

د خاوند له خوا د مشاع مال د برخې ګټه اخیستنه ده.

دری:[ بهره برداری از مشاع]

## له میراث څخه تنازل

له ټاکل شوي حق څخه چې شخص د خپل مورث د میراث څخه مستحق کیږي، صرف نظر کولو ته ویل کیږي. دری: [تنازل از میراث]

## له نورو جرمونو سره یوځای عمدي قتل

هغه قتل دی چې قاتل له قتل سره سم او یا هم د هغه تر ارتکاب مخکې د نورو جرمونو په ترسره کولو هم لاس پورې کوي. دری:[قتل عمد توام با جرایم دیګر]

## له وصیت څخه بېرته ګرځېدنه

د وصي د وصیت له تېرېدنې څخه عبارت دی.

دری:[رجوع از وصیت]

## له وظیفې څخه انفصال

له هغې وضعیت څخه عبارت دی چې د عامه خدمتونو مؤظفین د محکمې د قطعي حکم له مخې د ټاکل شوې مودې لپاره او یا هم په دایمي توګه د دولتي خدمتونو له تر سره کولو څخه محروم شوي وي.

دری:[انفصال از وظیفه]

## له هبې څخه د راګرځېدو د حق د سقوط وخت

له هبې څخه د راګرځېدو حق هغه مهال سقوط کوي چې د هبې د عقد له خواوو څخه یوه، د موهوبې تر قبض وروسته ومري.

دری: [زمان اسقاط حق رجوع از هبه]

## له هبې څخه د راګرځېدو شرط

واهب کولای شي چې د موهوب له د موافقې او نه موافقې په صورت کې، د محکمې په اجازه د معقول عذر په لرلو سره له هبې څخه وګرځي.

دری: [شرط رجوع از هبه]

## له هبې راګرځېدل

د مال د تملیك د تصمیم په اړوند د واهب له راګرځېدل دی موهوب له ته. دری:[رجوع از هبه]

## لیترآف کرېدت

هغه دی چې د یو سند په توګه د یوه بانك له خوا صادریږي او صادروونکی یې موافقه کوي ترڅو حوالې د ټاکلیو شرایطو سره سم په سند کې ومني او د اعتباري حساب په ورکولو سره چې مخکښې رامینځته شوی، معامله وکړي. دری: [لیتر آف کریدت]

## لیکلې شوې اطلاع

هغه لیکل شوی قرارداد دی چې د دواړو لورو ترمینځ ورکول کیږي. دری: [اطلاع کتبی]

## ليکلي مزايده

هغې مزايدې ته ويل کيږي چې د دولتي مالونو په خرڅولو کښې د قانون له حکمونو سره سم اداري او رسمي تشريفات په نظر کې نيول کيږي.
دری:[مزایدهٔ کتبی]

## ليکلی اقرار

هغه ډول اقرار دی چې د ليکلو له لارې ترسره شي.
دری:[ اقرار کتبی]

## ليکه ويستل

هغه طريقه ده چې پکښې مظنونان د شاهد يا مجني عليه له خوا د پېژندنې په مقصد په يوه ليکه کې درېږي.
دری:[در صف کشیدن]

## ليل

هغه زمان دی چې د لمر له لوېدو څخه شروع کيږي او د هغه تر راختلو پورې دوام کوي. دری: [لیل]